هیواد
ورځپانه

امارت اسلامی افغانستان
وزارت ارشاد، حج و اوقاف
اوقات افطار و سحری ولایت کابل

رمضان	دوازدهم
ایام	چهارشنبه
تاریخ	۱۴۰۳/۱۲/۲۲
افطار	۶:۰۲
عشاء	۷:۲۳
ختم سحری	۴:۳۷
آذان فجر	۴:۴۲

فطرت: د ملګرو ملتونو سازمان دې د افغانستان په اړه خپلواک تصمیم ونیسي

د اسلامي امارت مرستیال ویاند ملا حمدالله فطرت ویلي، چې افغانستان له نړیوالي ټولنې سره د تعامل لپاره هڅې کړي، خو ځینې هېوادونه په دې لاره کې خنډونه جوړوي. فطرت له ملګرو ملتونو غوښتي، چې خپل تصمیم باید په خپلواکه توګه ونیسي او د هغو هېوادونو تر اغېزې لاندې رانشي، چې د افغانستان په جګړه کې ښکېل وو. ده زیاته کړې: که ملګري ملتونه خپلواک تصمیم ونیسي، افغانستان به وکولی شي،چې خپل نړیوال دریځ ومومي او د ملګرو ملتونو غړیتوب ترلاسه کړي. ښاغلي فطرت دغه څرګندونې د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو د سرمنشي د استازي روزا اوتنبایوا د هغو خبرو په ځواب کې کړې، چې ویلي یې وو: افغانستان باید نړیوالې ټولنې سره یوځای شي او دا په افغان حکومت پورې اړه لري، چې له نړیوالې ټولنې سره د تعامل په لور ګامونه اخلي او کنه.

مؤسس: عبدالرووف بېنوا | د تاسیس کال ۱۳۲۸ لمریز | چهار شنبه د رمضان المبارک ۱۲ مه ۱۴۴۶ق کال، د کب ۲۲ مه ۱۴۰۳ ل کال، د مارچ ۱۲ مه ۲۰۲۵م کال، خصوصي ګڼه ۵۶۶ مه ، پرله پسې ګڼه ۶۵۶ مه، اتمه دوره

افغانستان او عمان به د دوه اړخیزو اړیکو نوی پړاو پرانیزي

د بهرنیو چارو وزیر مولوي امیر خان متقي د عمان د بهرنیو چارو له وزیر بدر بن حمد البوسعیدي سره په مسقط کې لیدنه کړې. دواړو لوریو د دوه اړخیزو سیاسي، اقتصادي او ټولنیزو اړیکو پر پیاوړتیا مفصلې خبرې کړې او ډاډ یې څرګند کړی، چې افغانستان او عمان به د دوه اړخیزو اړیکو نوی پړاو پرانیزي. مولوي امیر خان متقي په افغانستان کې د لسیزو جګړو پای ته رسېدل، له نړۍ او سیمې سره د متوازنو اړیکو رامنځ ته کول، سراسري امنیت ټینګېدل د افغان حکومت مهمې لاس ته راوړنې بللي او دا یې د بهرنۍ پانګونې په ځانګړي... ۳مخ

چین د افغانستان د اسلامي امارت د کړنو ستاینه وکړه

چین د افغانستان د اسلامي امارت له حکومتولۍ او اقتصادي پرمختګونو ستاینه کړې ده. افغانستان د امارت اسلامي تر حاکمیت لاندې اقتصادي او ټولنیز پرمختګونه کړي او د

د ملګرو ملتونو لپاره د چین استازي، فوکونګ، د امنیت شورا په غونډه کې ویلي: هېواد اسعار هم باثباته پاتې دي. ده د امریکا له خوا د افغانستان د شتمنیو کنګل کول ... ۳مخ

اقتصادي معاونیت سږکال د کان کیندنې ۲۵پروژې منظورې کړې

د ریاست‌الوزراء اقتصادي معاونیت وایي: د دې معاونیت کیندنې پروژې منظورې شوې دي. په دې پروژو کې د غور

له لوري په ۱۴۰۳ لمریز کال کې د کوچنۍ مقیاس ۲۵ کان ولایت د تولک ولسوالۍ د زلیچه سیمې د تراورتین ډبرو پروژه، د هرات ولایت د چشت شریف ولسوالۍ د جرتاخومک سیمې د مرمر ډبرو پروژه، د بامیانو ولایت د یکاولنګ ولسوالۍ د سربو او جستو د دوو بلاکونو پروژې، د میدان وردګو ولایت د قول خویش ساحې د تراورتین ډبرو پروژه، د بامیانو ولایت د یکاولنګ ولسوالۍ د سر سرخک د سربو او جستو پروژه، د ارزګان ولایت د خاص ارزګان ولسوالۍ د کندلان سیمې د مرمر ډبرو د دویم بلاک پروژه، د سمنګانو ولایت... ۳مخ

ننګرهار کې د بي بي فاطمه الزهرا روغتون رغنیزې چارې پیل شوې

د ننګرهار په بي بي فاطمه الزهرا ولایتي روغتون کې د ۲ میلیونه افغانیو په لګښت رغنیزې چارې پیل شوې دي. د ننګرهار د عامې روغتیا ریاست رسنیز دفتر باختر اطلاعاتي آژانس ته ویلي،چې په دې پروژه کې به د روغتون د کوچنیانو او نویو زېږېدلو ناروغانو وارډ کاشي کړي، ویجاړې شوې برخې به ترمیم کړي او د خارج بستر (OPD) ناروغانو لپاره به ۵ کتنځایونه او پاک تشنابونه جوړ کړي... ۳مخ

له افغانستان څخه د غالیو صادرات ډېر شوي

د جوزجان په آقچې ولسوالۍ کې د وطني غالیو اوبدلو او پروسس یوه کارخونه کې دا او اړوندو کارونو بوخت دي. د لاسونو په وسیله دغه بېلابېلې اوبدل شوې غالۍ پر کورنۍ

مهال ۳ زره ۵۰۰ تنه نارینه او ښځینه کارګران په غالۍ اوبدلو بازار سربېره، نړیوال مارکېټ کې هم د پېرودونکو د خوښې وړ ګرځېدلي او په ښه بیه یې پېري. د کارخونې مسؤلین د وطني غالیو د صادراتو زیاتېدو له امله د دې لرغوني او مشهور صنعت وديې ته خوشبین دي. د غالیو اوبدلو کارخونې مسؤل عبدالغفار ایلچ وایي: ((موږ په یوه میاشت کې تر ۲۰۰۰ مترو پورې تولید لرو، چې شاوخوا ۱۸۰۰ متره یې بهر ته استوو او تقریباً هره ورځ بسته بندي لرو. زموږ د تولیداتو ۱۵ سلنه پاکستان ته ځي، هغه هم یو ښه مشتري دی.))د وطنی غالیو په یاده کارخونه کې کارکوونکي ،چې د غالیو پر اوبدلو... ۳مخ

هلمند کې د یوې پروژې چارې پیل شوې

د هلمند ولایت سیمه ییز مسئولین وایي چې په ګرمسیر ولسوالۍ کې د نږدې ۳ میلیونو افغانیو په لګښت د یوې پروژې چارې پیل شوې دي. سرچینې باختر اطلاعاتي آژانس ته ویلي چې دغه پروژه د ۲ میلیونه ۹۳۳ زره ۹۷۰ افغانیو په لګښت پلې کېږي، چې په کې ۱۵۷۰ متره د یوې کانکریټي ویالې او د ۳۰ پلګوتو د جوړولو چارې شاملې دي. ورته مهال د سیمې اوسېدونکو د یادې پروژې په پلې کېدو خوښي ښودلې او په راتلونکي کې یې د ورته نورو پروژو د پلې کېدو غوښتنه کړې ده.

ابو نصر فراهي ګمرک کې د هنګرونو جوړولو پروژه پرانیستل شوه

د مالیې وزارت وایي: د ګمرکونو لوی ریاست ورمه ورځ د فراه ولایت د ابو نصر فراهي ګمرک کې د ۷۱.۸

میلیونو افغانیو په ارزښت د څلورو هنګرونو د جوړولو پروژې پرانیستنه وکړه. په دې پرانیستغونډه کې د ګمرکونو لوی ریاست د حمایت او پراختیا رئیس مسلم خاکسار، د ابو نصر فراهي ګمرک رئیس مولوي خلیل الرحمن مصطفی او د یادې پروژې تخنیکي کارکوونکو ګډون کړی و. د یادې پروژې بودیجه د مالیې وزارت له پراختیایي بودیجې څخه ورکول کېږي ... ۳مخ

د سوداګرۍ او پانګونې خونه:
د تورخم لارې د بندېدو له امله ډېر زیان پاکستاني سوداګرو ته اوړي

د پاکستان له خوا د تورخم لارې له بندولو ۱۸ورځې اوړي او پر سوداګرۍ سربېره هېڅ راز تګ راتګ ته اجازه نه شته. د دې لارې د تړلو پر مهال د دواړو غاړو سوداګرو ته میلیونونه ډالره زیان اوښتی، چې دا ځل یې د مالي زیانه زیاته برخه پاکستاني سوداګرو ته اوښتې ده. د سوداګرۍ او پانګونې خونې مسئولین وایي: د تورخم لارې د تړل کېدو پرمهال د دواړو غاړو سوداګرو ته په میلیونونو ډالرو زیان اوښتی او په خبره یې، که څه هم د تورخم لارې په تړل کېدو سره اوس افغان سوداګر د خپلو تجارتي توکو د ترانزیټ لپاره بدیلې لارې لري. د سوداګرۍ ... ۳مخ

د تیرې اداري ۶ تنه کارکوونکي بېرته هېواد ته راستانه شول

له افغان شخصیتونو سره د تماس کمېسیون پرون هېواد ته د تیرې اداري د ۶ نورو کارکوونکو د راتګ خبر ورکړی دی. یاد کمېسیون پر خپله اکس پاڼه لیکلي دي، چې په راستنو شویو کسانو کې په تېره اداره کې د هرات ولایت د امنیه قوماندانۍ د داخلي امنیت د مدیریت اداري غړي سید زین الدین غوثي، د سمنګانو ولایت د ولایتي شورا منتخب وکیل محمد فذیر بسیج، د فراه ولایت ... ۳مخ

هرات کې د هنري آثارو ننداړتون جوړ شو

د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت وایي: د هرات د اطلاعاتو او فرهنګ ریاست او د صنایعو او کانونو خونې په همغږۍ، د کابل فولاد شرکت په مالي ملاتړ د روژې مبارکې میاشتې په ویاړ د علامه صلاح‌الدین سلجوقي په تالار کې د پیام نور په نوم د هنري اثارو ځانګړی ننداړتون جوړ شوی. د یاد ولایت د اطلاعاتو او فرهنګ رئیس مولوي احمدالله متقي وایي: هرات د افغانستان د اصیلو هنرونو زانګو ده او د دې ولایت هنرمندان توانېدلي، چې د هېواد فرهنګي... ۳مخ

سرلیکنه

اسلامي امارت او له نړۍ سره د اړیکو پراخولو بریالۍ سیاست!

اوس چې نړۍ د یو کلي په څېر گرځېدلې او د نړۍ اوسېدونکي په یو نــه یو ډول نورو ته اړتیا لري، نو له همدې امله نړیوالې اړیکې او یـو له بل سره تعامل خورا مهم دی. عمان هېواد ته د افغانستان د اسلامي امارت د بهرنیو چارو د وزیر وروستی سفر او د دغه هېواد له لوړپوړو چارواکـو سره د دوه اړخیزو همکاریو او اړیکو پراخ بحث، د افغانستان ډیپلوماتیکې هڅې او سیمه ییز تعامل څرگندوي چې افغانستان له نړۍ سره د اړیکو په برخه کې د پراختیا په درشل کې دی. دا سفر په داسې حال کې ترسره شو، چې اسلامي امارت د گڼو هېوادونو له رسمي استازو سره فعالې ډیپلوماتیکې اړیکې لري او د افغانستان سفارتونه ورځ تر بلې په نړیوال تعامل کې ځای خپلوي.
کله چې اسلامي امارت د افغانستان واگې ترلاسه کړل، ځینو سازمانونو او هېوادونو داسې انگېرل چې نوی حکومت به منزوي او د نړیوالو اړیکو دروازې به پرې بندې شي، خو د وخت په تېرېدو ثابته شوه چې دغه وړاندوینې ناسمې وې. اوس مهال د سیمې او نړۍ گڼ هېوادونه له اسلامي امارت سره تعامل لري، سفارتونه یې فعال دي او د متقابل احترام پر بنسټ اړیکې ورځ تر بلې پراخېږي.
د عمان سفر هم د همدې تعامل یوه بېلگه ده. عمان د سیمې یو معتدل، متوازن او اغېزناک هېواد دی، چې له اسلامي امارت سره د اړیکو پراخول یې کولای شي د اقتصادي، سیاسي او فرهنگي همکاریو لپاره نوي فرصتونه برابر کړي. د اسلامي امارت ډیپلوماتیکې هڅې نه یوازې دا چې افغانستان له انزوا څخه را باسي، بلکې د سیمې په سیاسي او اقتصادي ثبات کې هم مهم رول لوبولی شي.
د افغانستان نوې ډیپلوماتیکه تگلاره د دې ښکارندویي کوي، چې اسلامي امارت غواړي له نړیوالې ټولنې سره پر متقابل احترام ولاړې اړیکې ولري او د هېواد گټې د یوې خپلواکې پالیسۍ له مخې خوندي کړي. د اسلامي امارت د بهرنیو اړیکو اوسنی بهیر دا ثابتوي، چې نړۍ ته د یو واقعي، خپلواک او له سیمې سره د تړلي افغانستان تصور ورځ تر بلې روښانه کېږي.
نړۍ ته دا پیغام رسېدلی، چې افغانستان منزوي نه دی، بلکې د تعامل، همکارۍ او اقتصادي پرمختگ نوې مرحلې ته داخل شوی.
اوس اړینه ده چې نړیواله ټولنه هم د افغانستان له نویو واقعیتونو سره تعامل وکړي، د تعامل له لارې د اعتماد فضا نوره هم پراخه شي او د سیمې د ثبات او اقتصادي پرمختگ لپاره عملي گامونه واخیستل شي.

نړۍ د نویو بدلونونو په درشل کې

سالمزی

د نړۍ حالاتو او سیاستونو ته په کتو سره د لویو قدرتونو ترمنځ رقابتونو ته که ځغلنده کتنه وکړو، نو جوته به شي چې نړیوال استعماري ځواک امریکا چې پر نړۍ یې د واک چلولو او ملکۍ خوبونه لیدل، شاید د دغو خوبونو تعبیر یې برعکس او د دغه فرعوني زبرځواک په ټوټه کېدو او له نړۍ څخه غوړولی جال یې راټول او لاسونه یې رالنډ شي. د اوکراین جگړه او د هغې د پای ته رسولو، پر سوله روسیې سره خبرې او په هغو کې د زلنسکي او اروپایانو نه گډون دا څرگندوي چې ناټو ائتلاف هم له امریکې خپله لاره بېله کړي او د روسانو له احتمالي یرغل څخه د مخنیوی په موخه د خپلې بقا لپاره گامونه پورته کړي، چې په هغې کې د اتومي وسلو د جوړولو او همدا رنگه له اتومي حملو څخه د مخنیوي په موخه د تاسیساتو او تجهیزاتو برابرول شامل دي، خو زما په نظر ناشونې برېښي. د روسیې په پوځ کې د ۳۰۰۰۰۰ دری سوه زرو نویو سرتېرو جذبولو، د ۳۰۰۰ ټانکونو جوړولو او اتومي وسلو ته پراختیا ورکولو د ناټو ائتلاف له وارخطایۍ سره مخ کړی یوازې بریتانیا او فرانسه یې اتومي وسلې لري چې له دغه اتحاد څخه بریتانیا خپل ځان وېستلی او فرانسه نشي کولی د ناټو غړو هیوادونو ته اتومي وسلې ورکړي او یا هم له هغوی څخه د دفاع مسئولیت په غاړه واخلي او که د اروپایي اتحاد همدا غړي هېوادونه په اتحاد کې هم سره پاتې شي، بیا هم اوکراین او روسیې ته اړتیا لري چې طبیعي گاز، تېل او داسې نور توکي له روسیې څخه ترلاسه کړي او یا هم بله بدیله لاره ورته وگوري. دا هم د اروپایي اتحاد لپاره یو اقتصادي زیان دی او پایله یې د دغه ائتلاف په ړنگېدو او یا هم روسانو ته له تسلیمېدو پرته بله لاره نه لري. له بله پلوه د چین پرمختگ او اقتصادي ودې هم امریکا وارخطا کړې او امریکا غواړي د چین د اقتصادي او پوځي پرمختگ مخه ونیسي او دا هم ناشونې ده، ځکه چې له چین سره د امریکا په مقابل کې روسیه، شمالي کوریا، ایران او هند هم د امریکې د قیادت او یکه تازۍ مخه نیسي، نو په دې حساب ویلی شو چې د امریکا په مشرۍ د ناټو اتحاد په ړنگېدو او په مقابل کې یې د روسیې، چین، شمالي کوریا، ایران او هند ترمنځ نوی ایتلاف رامنځ ته شوی دی. د نړۍ دغو سیاستونو او پالیسیو ته په کتو سره شاید نړۍ له یو قطبي څخه په څو نورو قطبونو ووېشل شي، ځکه د روسیې، چین، شمالي کوریا، ایران او هند ترمنځ دا ائتلاف ډېر پیاوړی دی او ستر قدرتونه پکې گډون لري. شاید د دې ماتول یوازې د امریکا له توانه پوره نه وي او د امریکا دوه مخی سیاست او د مسلمانانو پر خلاف د هغوی له لوري صلیبي جنگونه او د مسلمانانو عام وژنې د اسلامي امت ترمنځ د یووالی او اتحاد زمینه هم برابره کړي، چې په دې سره به اسلامي هیوادونه هم د یو قوی ځواک په توگه راڅرگند شي او د امریکا شومې او ناولې هیلې به له خاورو سره خاورې کړي. په فلسطین او اوکراین کې د امریکا په قیادت تېل شوي جنگونه او په هغو کې د یهودو، امریکا او ناټو ماتې څرگندوي چې د امریکا د زوال شیبې رانږدې شوې دي او موږ هیله من یو چې قادر او ځواکمن الله جل جلاله به د میلیونونو مسلمانانو ویني، نه هدر کوي او په ټوټه کیدو سره به یې د مسلمانانو زړونه یخ او ټکور کړي. د همدغې ورځې د راتلو او لیدو په هیله.

د روژې مبارکه میاشت کې د ښو کړنو او مرستې کولو ارزښت

شېرمحمد امیني ستانکزی

د روژې مبارکه میاشت کې نېک عملونه او له بېوزلو سره مرسته کول انسان ته د پرهېزگارۍ او ښو اخلاقو لاره ښیي. په دې مبارکه میاشت کې نېک او ښه عملونه ترسره کول د انسان زړه ته سکون ورکوي، چې په دې سره زړونه له کینې، کدورت او دښمنۍ ساتي او نرمښت ته یې هڅوي.
په همدې مبارکه میاشت کې مسلمانان زیات وخت عبادتونو، د قرآن کریم تلاوت، ذکر کولو او صدقې ورکولو ته وقف کوي، چې دا ټول عملونه له نورو میاشتو لس برابره زیات ثواب لري.
د روژې میاشت کې باید له صبر او تحمل نه کار واخیستل شي، ځکه الله تعالی له صابرینو سره دی. نو پکار ده، چې خپل ځان الله تعالی ته وسپارو او د دې میاشتې په برکت به مو په خپلو ورځنیو چارو کې زیات برکتونه راشي. دا برکتونه به نه یوازې زموږ په دنیوي کارونو کې مرسته وکړي؛ بلکې د آخرت لپاره به مو هم یو ښه کښت کړی وي.
په روژې میاشت کې له بېوزلو سره مرسته کول د انسانیت د صله رحمۍ یوه هڅه ده، چې یو څوک د خپل وخت، مال او زحمت ابستلو په یوه حصه د نورو ژوند ته نېکمرغي او خوښي ور په برخه کوي. نو څوک چې د بېوزلو کورنیو اقتصادي ستونزې او اندېښنې کموي، الله تعالی به په هغه کس باندې نور هم مهربان شي او د هغه مالونو او کار کې به زیات برکتونه واچوي.

په همدې میاشت کې باید هڅه وشي، چې د خپلې ژبې ساتنه وکړو، له زړونو د عداوت او کینې جرړې له منځه یوسو او همدارنگه له بدو خبرو، غیبت کولو، چغلي او ناروا خبرو څخه ډډه وکړو، ځکه په دې سره نه یوازې د وگړو لپاره گټه ده؛ بلکې د ټولنې د اصلاح او سمون سبب هم کېدلای شي.
راځئ چې د رمضان مبارکه میاشت پوره د زړه له تله ونیسو، په ځان او ټولنې کې سمون راولو، له خلکو سره ښه سلوک وکړو او له بېوزلو سره د خپل وس په توان مرستې وکړو.

د نیالگیو کښېنولو دود ته ژمن پاتې شئ

شاه محمود درویش

په هېواد کې د نیالگیو کښېنولو دود او فرهنگ له کلونو څخه را په دې خوا زموږ په هېواد کې د یو لرغوني دود په څېر دوام درلود، دولت او خلکو به د هېواد په ښارونو، کلیو او بانډو کې هرکال د پسرلي په موسم کې زرگونه نیالگي او ونې کېنولې، البته په پخوا وختونو کې سره له دې چې د خلکو د پوهې کچه ټیټه وه، خو سره له دې هم د ښار اوسېدنې فرهنگ ته پوره پاملرنه کېده او خلکو د هېوادپالنې د لوړاحساس په درلودلو سره د خپل ښار په پاک او سمسور ساتلو کې پوره برخه درلوده، په اوسني وخت کې سره له دې چې خلک د نیالگیو کېنولو او د شنو سیمو د پراختیا له گټو څخه پوره خبرتیا لري، خو له بده مرغه چې دغه کارته لږه پاملرنه کېږي، خو دې ټکي ته مو باید پام وي چې ونې له هوا څخه د جامدو ذراتو، کاربن ډای اکساید او نورو مضره غازونو په جذبولو سره د چاپېریال په پاکوالي کې مهم رول لري، کابل چې یو له گڼ مېشتو او ککړو ښارونو څخه دی او د دغې ککړتیا د مخنیوی یواځینۍ حللاره هم د ونو او نیالگیو کېنول او د شنو سیمو پراختیا گڼل کېږي.
پردې بنسټ د یوې غوره سپارښتنې له مخې اړینه برېښي چې قدرمنې کورنۍ خپل کوچنیان د ونو د ښاخونو د پرې کولو او زیانمنولو له ناوړو اغېزو خبر کړي او همدارنگه د ښار ټول اوسېدونکي باید د هېواد پالنې د لوړ احساس له مخې د خپلو کورونو په دننه او بهر کې نیالگي کینوي او دهغو ساتنې او خړوبولو ته هم پاملرنه وکړي، دغه راز د ښوونځیو استادان، د مسجدونو ملا امامان او په ټوله کې د ښار اوسېدونکي باید د اسلامي، ملي او هېوادني سپېڅلې وجیبې او رسالت له مخې د اسلام د مبین دین او طبیعي علومو په رڼا کې خپل خلک د ونو او شنو سیمو پر ارزښت پوه او دهغو ساتنې ته یې په پرله پسې توگه وهڅوي.
د یادونې وړ ده چې د پورتنیو ټولو گټو په نظر کې نیولو سره د کابل ښار له ټولو گرانو اوسېدونکو څخه د یو با مسئولیته ښاري په توگه هیله کېږي ترڅو د پسرلي په رارسیدو سره د نیالگیو په کینولو کې پراخه ونډه واخلي او بیا وروسته هغه خړوب او ورڅخه ساتنه وکړي، همدا راز د ښار په بیلابیلو سیمو کې چې د کابل ښاروالۍ او یا هم نورو دولتي ارگانونو او خصوصي بنسټونو له خوا د سمسورتیا لپاره ځانگړې شوي دي د ونو او نیالگیو په کینولو سره د خپل ښار د چاپیریال په ساتلو کې برخه واخلي او خپله دنیوي او آخروي دنده اداء کړي.
د یادولو وړ ده چې د نیالگیو کینولو او روزنې د لاربښود پربنسټ د لاندې څو مهمو ټکو یادونه هم اړینه ده:
د نیالگیو کښېنول او روزنه: نوي کښېنول شوي نیالگي د کښت په ساحه کې له بیلابیلو چاپیریالي

شرایطو لکه: وچکالۍ، تېز لمر، لوړې او ټیټې د تودوخې درجې او د ژوندیو ژویو له حملې سره مخامخ کېږي، نو له دې کبله اړینه گڼل کېږي چې له نیالگیو سره نږدې چا پیریال په ښه توگه برابر شي ترڅو د ژوندي پاتې کېدو امکان یې لوړ شي، د امکان په صورت کې د کښت ساحه کې باید نیالگیوته په لومړي وده ییز فصل کې اوبه ورکړل شي، ځکه په لومړي نموئي فصل کې نیالگي د وچکالۍ په وړاندې ډېر حساس وي، همدارنگه د سیوري برابرول او له ملچ (mulch) څخه گټه اخیستنه هم د نیالگیو له ژوندي پاتې کېدو سره مرسته کوي.
د ملچ(mulch) استعمال: د خاورې د لندبل ساتلو او د هرزه بوټو له شنو کېدو څخه د مخنیوي لپاره د نیالگیو چاپیر د خاورې د سطحې پوښلو(د عضوي او غیر عضوي موادو په وسیله) ته ملچ ویل کېږي.
د دغو موادو استعمال د خاورې له گرمېدو او یخ وهلو څخه هم مخنیوی کوي، له بیلابیلو موادو لکه: د ونو پاڼو، د ارې بورې، نباتی پاتې شونو، د لرگي ټوټې او ټوکرو څخه کولای شو د ملچ په توگه گټه واخلو، د خاورې مخ باید د ملچ د (۲-۴) انچ ډبلې طبقې په وسیله وپوښل شي او که چېرې د ملچ د طبقې اندازه له دې څخه ډېره شي نو د اکسیجن له تبادلې اوپه خاوره کې د ډېر لندبل د راټولیدو لامل کېږي.
له ملچ څخه د گټې اخیستو په وخت کې باید د ونې تنه د ملچ په وسیله ونه پوښل شي، ځکه د پوټکي د تخریب لامل کېږي.
همداراز نیالگي باید له بیالوژیکي فکتورونو لکه ښارویو څرولو او د انسانانو په وسیله تر پښو لاندې کیدوڅخه وساتل شي ترڅو په خاوره کې ځان تثبیت او له مړاوي کیدو څخه وژغورل شي.
د نیالگیو د کښت وخت: نیالگی باید هغه وخت کې چې فعاله وده او نمو ونلري کښېنول شي، زموږ په هېواد کې د نیالگیو د کښت معمول وخت د منی له نیمایي څخه پیل د پسرلي تر نیمایي پورې دوام لري. په ساحه کې د نیالگیو کښېنول په بزغلیو کې د هغو د روزنې په ډول پورې هم اړه لري. معمولاً په بزغلیو کې نیالگي په دوه ډوله مستقیماً په خاوره کې یا په گلدانونو کې روزل کېږي. باید په هغه وخت کې چې فعاله وده او نمو نلري، کښېنول شي. څرنگه چې په گلدانونو کې د روزل شویو نیالگیو ریښې له خاورو څخه بهر نه راویستل کېږي نو کولای شو د فعالې ودې او نمو په وخت کې یې هم کښېنوو.
په هغو سیمو کې چې واوره لږ اوریږي او خاوره هم یخ نه وهي د ژمي په موسم کې د نیالگیو د کښېنولو سپارښتنه کېږي.
د نیالگیو ټاکنه: نیالگي باید راست(سېده)، روغ او د ساقې او ریښو مناسبه اندازه ولري. همیشه باید د نیالگي د ساقې او ریښې د اندازو ترمنځ توازن شتون ولري، هغه نیالگي چې لویې ساقې او کوچنی د ریښو سیستم لري نشي کولای ترڅو په خاوروکې خپل ځان تثبیت او د بادونو په وړاندې مقاومت وکړي او همدارنگه کوچنۍ ریښې نشي کولای ترڅو لویو ساقوته اوبه او منرالي مواد برابر کړي. ډېرې کوچنۍ ساقې د چاپیریالي عواملو، حیواناتو او انسانانو په وسیله اغیزمنې کېږي، بدبختانه زموږ په هېواد کې د بزغلیو د خاوندانو له خوا څو کلن نیالگي چې ډېرې لویې ساقې لري پر خلکو... ۳مخ

افغان اعلانات

اطلاعیه فروش موتر

اسامی محترم سلطان محمد فرزند جان محمد یک عراده موتر پلیت ۷۸۹۲۳ ل کابل نوع بنز خاور جرمنی خویش را بعد از طی مراحل قانونی خرید و فروش بالای الهام الدین فرزند جمعه گل بفروش رسانیده است.

بناء اشخاص ادارات و موسساتی که با عراده فوق کدام معامله داشته باشند الی مدت سه یوم به مدیریت ترافیک کابل اطلاع دهند. ۹۷۴۳

اطلاعیه فروش موتر

اسامی محترم حسن محمد فرزند نظر محمد یک عراده موتر پلیت ۶۹۹۸۹- ل کابل نوع بنز خاور جرمنی خویش را بعد از طی مراحل قانونی خرید و فروش بالای الهام الدین فرزند جمعه گل بفروش رسانیده است. بناء اشخاص ادارات و موسساتی که با عراده فوق کدام معامله داشته باشند الی مدت سه یوم به مدیریت ترافیک کابل اطلاع دهند. ۹۷۴۴

اطلاعیه فروش موتر

اسامی محترم مصطفی فرزند گل محمد جان یک عراده موتر پلیت ۴۹۱۵۶ ل کابل نوع بنز کمپرس جرمنی خویش را بعد از طی مراحل قانونی خرید و فروش بالای الهام الدین فرزند جمعه گل بفروش رسانیده است.

بناء اشخاص ادارات و موسساتی که با عراده فوق کدام معامله داشته باشند الی مدت سه یوم به مدیریت ترافیک کابل اطلاع دهند. ۹۷۴۶

اطلاعیه به کرایه دهی

وزارت ترانسپورت و هوانوردی ، مساحت ۳۰ متر مربع جای باب کانتینر ۴۰ فوت به منظور ایجاد ورکشاپ واقع رمپ دوم میدان هوائی بین المللی کابل را به اجاره میدهد.

شرکت های هوائی که خواهش به اجاره گرفتن مساحت متذکره را از طریق پروسه مزایده داشته باشند ، از تاریخ نشر اعلان الی مدت ۱۰ روز درخواستی های خویش را به آمریت املاک ، ریاست املاک و خدمات، وزارت ترانسپورت و هوانوردی واقع انصاری وات کابل بسپارند . شرطنامه برای متقاضیان دربدل ۳۰۰۰ افغانی بدون باز پرداخت توزیع میگردد.۹۷۴۰

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت تجارتی به اسم مرزا محمد فرزند شاه محمد مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۹۷۳۸

اطلاعیه مفقودی

یک قطعه کارت مجوز حمل سلاح دارای شماره HPO۸۲۲ نوع کلاشینکوف مربوط محترم حمد فرزند مظفر مفقود گردیده از اعتبار ساقط میباشند.۹۷۳۷

اعلان مجدد داوطلبی

پروژه های اعمار و احداث دروازه های الکترونیکی (تولگیت¬ها) در مرکز و ولایات کشور

فرمایش دهنده: وزارت ترانسپورت و هوانوردی

تاریخ نشراعلان: ۱٤۰۳/۱۲/۲۰ ه ش الی ۱٤۰٤/۰۱/۱۹ ه ش

وزارت ترانسپورت و هوانوردی پروژه های مشارکت عامه وخصوصی اعمار و احداث دروازه های الکترونیکی (تولگیت¬ها) واقع سمت تورغندی قریه دشت حوض ولسوالی انجیل ولایت هرات، سمت غور و بادغیس قریه کرخ ولسوالی رباط سرخ ولایت هرات، کندهار-هرات قریه سنحری ولسوالی ژیری ولایت کندهار، سمت کندهار-اروزگان کوتل مرچه ولسوالی ارغنداب ولایت کندهار و سمت فاریاب پل خراسان مرکز ولایت جوزجان را بمنظور دیزاین، اعمار، بهره برداری و انتقال به مدت (۳۰ روز) مجدداً به اعلان میسپارد. بدین وسیله داوطلبان میتوانند علاقمندی شان را طی یک قطعه عریضه با کاپی جواز فعالیت شرکت شان به ریاست پلانگذاری، تحقیق و تطبیق پروژه های این وزارت از تاریخ نشر الی ختم اعلان ارایه نموده و شرطنامه و اسناد داوطلبی را به شکل (سافت) از بخش مشارکت عامه و خصوصی در بدل مبلغ (۵۰۰۰) افغانی اخذ نمایند.

آدرس ما: وزیر محمد اکبر خان، تعمیر وزارت ترانسپورت و هوانوردی ریاست پلانگذاری، تحقیق و تطبیق پروژه ها، متصل رادیو تلویزیون ملی افغانستان.

تماس: ۰۷٦٤٦۳۸۹۲٦

۹۷۶۸

موضوع: نشر اعلان ساحه معدن کاری مقیاس کوچک سنگ مرمر ساحه سترنین

وزارت معادن و پترولیم پروژه معدنکاری مقیاس کوچک سنگ مرمر ساحه سترنین ولسوالی ده یک ولایت غزنی را که مشخصات آن ضم جدول میباشد، غرض جلب علاقه مندان به اعلان میسپارد.

علاقه مندان میتوانند از تاریخ ۱٤۰۳/۱۲/۲۱ الی ۱٤۰٤/۰۱/۲۰ درخواست های شان را به ریاست عمومی تنظیم منرالها و کادستر تسلیم نموده و اسناد لازم را بعد از تحویلی قیمت شرطنامه (پول غیر قابل برگشت) بدست آورند.

بناً ذریعه مکتوب هذا از اداره محترم افغان اعلانات خواهشمندیم تا متن یاد شده و جدول ضم هذا را در روز نامه های دولتی به نشر سپرده ممنون سازند.

جدول مشخصات ساحه معدنی سنگ مرمرساحه سترنین ولسوالی ده یک ولایت غزنی به مقیاس کوچک

تاریخ اعلان ۲۱/۱۲/۱۴۰۳ هـ ش ۱۱/۹/۱۴۴۶ هـ ق

تاریخ ختم اعلان ۲۰/۰۱/۱۴۰۴ هـ ش ۱۱/۱۰/۱۴۴۶ هـ ق

شماره	نوع مواد معدنی	نام ساحه	ولسوالی	ولایت	مساحت (Km^2)	کوردینات N-Latitude S	N-Latitude M	N-Latitude D	E-Longitude S	E-Longitude M	E-Longitude D
۱	سنگ مرمر	سترنین	ده یک	غزنی	۰,۱۸۳۲۴۷ کیلومتر مربع	۳۷,۱۵۸	۳۲	۳۳	۲۹,۸۵۹	۴۴	۳۲
						۵۲,۰۳۰	۳۲	۳۳	۱۹,۰۹۶	۴۴	۳۲
						۵۸,۳۱۳	۳۲	۳۳	۲۸,۳۸۳	۴۴	۳۲
						۴۵,۳۵۴	۳۲	۳۳	۴۱,۳۷۶	۴۴	۳۲

ترتیب کننده: ریاست تنظیم قرادادهای معادن کوچک

منظور کننده: ریاست عمومی کادستر و تنظیم منرالها

د نیالګیو کښېنولو دود ته ...

پلورل کېږي او ورته ویل کېږي چې دغه نیالګي لوی دي او په کمه موده کې لویېږي، اما دغه لوی او څو کلن نیالګي نشي کولای ترڅو خپل ځان په خاوره کې تثبیت او د بادونو په وړاندې مقاومت وکړي.

همدارنګه د نیالګیو د کښت د سیمې اقلیم او د خاورې ډول هم د نیالګیو په ټاکنه کې رول لري. د هغو سیمو لپاره چې هلته خړوبول اسانه او ارزانه وي داسې نیالګي باید وټاکل شي چې لویې ساقې ولري، ځکه د لویو ساقو لرونکي نیالګي کولای شي له هرزه بوټو سره رقابت وکړي او همدارنګه د دوامدارو خړوبولو په وسیله کوچنی ریښې کولای شي ترڅو لویو ساقو ته اوبه برابرې کړي. برعکس د هغو سیمو لپاره چې هلته د خړوبولو امکانات کم وي، داسې نیالګي باید وټاکل شي چې مناسبه اندازه ساقې او لویې ریښې ولري. لویې ریښې کولای شي ترڅو له خاورې څخه د اړتیاوړ لندبل جذب او نیالګي له مړاوي کېدو څخه وژغوري.

زموږ په هېواد کې معمولاً د نیالګیو ریښو ته کمه او یا هیڅ پاملرنه نه کېږي، اما دا باید په یاد ولرو چې د نیالګیو ریښې سالمې او له نیمګړتیاوو څخه باید خالي وي، همدارنګه د نیالګیو د ریښو سیستم باید ډېرې کوچنۍ او وېښته ډوله ریښې ولري، ځکه همدا کوچنۍ او وېښته ډوله ریښې له خاورو څخه د اوبو او منرالي موادو په جذب کې مهم رول لري...»

افغانستان او عمان به د دوه ...

توګه د عمان د سلطنت او عماني سوداګرو لپاره د پانګونې بنه زمینه بللې. مولوي امیر خان متقي له عماني لوري منه کړې، چې په مسقط کې یې د افغانستان سفارت ته د ښه فعالیت زمینه برابره کړې، چې په دې لړ کې افغانانو ته د عمان د کار د وېزو ورکړه، عمان ته د افغان توکو د صادراتو زمینه برابرول، د دواړو هېوادونو ترمنځ الوتنې پیلېدل او د اړوندو اسانتیاوو رامنځ ته کول یې د لومړیتوبونو په توګه یاد کړې.

د عمان د بهرنیو چارو وزیر خپل افغان سیال ته د ښه راغلاست ترڅنګ ویلي: عمان له پخوا د افغانستان د هوساینې او پرمختګ په برخه کې مثبت دریځ خپل کړی او غواړي له افغانستان سره سیاسي، اقتصادي او سوداګریزې دوه اړخیزې اړیکې لا پیاوړې کړي. نوموړي له افغانستان سره د خپل هېواد د اړیکو پیاوړتیا ته هیله ښودلې. همداراز د عمان د بهرنیو چارو وزیر هیله څرګنده کړې، چې د دواړو هېوادونو د بهرنیو چارو د وزارتونو ترمنځ به په ګډو ناستې دوام وکړي، ترڅو د دواړو هېوادونو ترمنځ د همکاریو د پراختیا پر زمینو مسلسلې خبرې او عملي کار وکړي.

چین د افغانستان د اسلامي امارت ...

او د لوېدیځو هېوادونو له خوا د بشري مرستو سیاسي کول د افغانستان د پرمختګ پر وړاندې لوی خنډونه بللي.

نوموړي ټینګار کړی، چې نړیوال مرسته کوونکي باید خپلې مرستې جاري وساتي او پر افغانستان لګول شوي بندیزونه لرې کړي. فوکونګ زیاته کړې: له ۲۰۲۱ کال راهیسې د افغانستان اووه میلیارده ډالره شتمنۍ د امریکا لخوا کنګل شوي، چې باید ژر تر ژره ازادې شي.

هغه د ملګرو ملتونو له سرمنشي وغوښتل، چې د افغانستان د شتمنیو د ازادولو او د نړیوالو مرستو د دوام لپاره هڅې وکړي.

ننګرهار کې ...

په ورته وخت کې د ننګرهار اوسېدونکو د یادې پروژې له پیل څخه هرکلي کړی او له مسئولینوڅخه یې د ورته نورو تولګټو پروژو د پلي کولو غوښتنه کړې ده.

اقتصادي معاونیت سږکال ...

مرکز کې د تخت رستم سیمې د چونې ډبرو د دریېم بلاک پروژه، د سمنګانو ولایت مرکز کې د سنګ شکن او تاش کوتل سیمې د چونې ډبرو د اول بلاک پروژه، د ننګرهار ولایت د ګوشتې ولسوالۍ د یارګي او خوره ناو سیمې د نفرایټ ډبرو پروژه او د کاپیسا ولایت د تګاب ولسوالۍ د ولګي سیمې د نفرایټ ډبرو د څلورم بلاک پروژه او همداراز د ننګرهار ولایت د شېرزادو ولسوالۍ د لده باغ سیمې د مرمر ډبرو پروژه، د کونړ ولایت د خاص کونړ ولسوالۍ د ادروتنګي د نفرایټ ډبرو پروژه، د ننګرهار ولایت د حصارک ولسوالۍ د کنجکي سیمې د سرپنتین ډبرو پروژه، د هرات ولایت د ګذرې ولسوالۍ د پیرن سیمې د ګچ ډبرو پروژه، د ننګرهار ولایت د شېرزادو ولسوالۍ د کودیخیلو دوهمه محدوده د مرمر ډبرو پروژه، د لغمان ولایت د مرکز مهترلام د پنج پاې سیمې د بیوتیت لرونکي ګرانیت ډبرو پروژه، د کابل ولایت د قره باغ ولسوالۍ د جرغاتي کلي د سران سیمې د نفرایټ ډبرو پروژه، د کابل ولایت د خاکجبار ولسوالۍ د ګزک سیمې د مرمر ډبرو د دریېم بلاک پروژه، د کابل ولایت د خاکجبار ولسوالۍ د ګزک سیمې د مرمر ډبرو د ۱۹م بلاک پروژه، د کابل ولایت د خاکجبار ولسوالۍ د ګزک سیمې د مرمر ډبرو د ۲۱م بلاک پروژه، د کابل ولایت د خاکجبار ولسوالۍ د ګزک سیمې د مرمر ډبرو د ٤۵م بلاک پروژه د کابل ولایت د خاکجبار ولسوالۍ د ګزک سیمې د مرمر ډبرو د ٤۴م بلاک پروژه، د ننګرهار ولایت د شېرزادو ولسوالۍ د کودیخیلو دریېمه محدوده د مرمر ډبرو پروژه، د ننګرهار ولایت د خوګیانو ولسوالۍ د وزیر پتنګ سیمې د ګچ ډبرو د څلورم بلاک پروژه او د ننګرهار ولایت د سپین غر ولسوالۍ د اسدخیلو توتګي سیمې د مرمر ډبرو پروژه شامله ده. دا په داسې حال کې ده، چې د ریاست‌الوزراء اقتصادي معاونیت په ټول توان هڅه کوي، چې د خپل ولس اقتصادي ستونزو ته د پای ټکی کېږدي او د هېواد اقتصاد د بهرنیو مرستو پر ځای یوازې پر خپلو پربنسټه داخلي سرچینو متکي کړي.

له جوزجان څخه د غالیو ...

مینځلو او پروسس بوخت دي، د دې صنعت پر ملاتړ ټینګار لري او له سوداګرو هم غواړي ،چې په مختلفو برخو کې په کور دننه پانګونه وکړي. یو تن غالۍ اوبدونکې وایي: ((موږ دلته کار کوو او په میاشتني ډول له اتو تر لسو زرو افغانۍ پیدا کوو. زما ماشومان ښوونځي ته ځي او زه دلته کار کوم.))د غالۍ اوبدلو یو تن بل کارګر وایي: ((کومې غالۍ چې دلته تولیدېږي، ټولې بهر ته ځي، ځکه موږ ته له بهره فرمایش راکول کېږي. دا ډېره ښه ده چې له بهره فرمایش راځي، ځکه موږ ټولو ته د کار زمینه برابرېږي.))په همدې حال کې د جوزجان ځایي چارواکي په دې ولایت کې د غالۍ اوبدلو د لرغوني صنعت د ودې او ملاتړ په موخه د ځینو پروګرامونو د جوړېدو خبر ورکوي. د جوزجان د صنعت او سوداګرۍ ریاست کې د متشبثینو د ملاتړ مدیر غلام فاروق یعقوبي وایي: ((له دې وړاندې زموږ غالۍ د ګاونډیو هېوادونو په نوم صادرېدلې. غالۍ له دې ځایه پاکستان ته تللې او هلته یې ځینې کارونه ترسره کېدل او بیا د پاکستان په نوم نورو هېوادو ته صادرېدلې او ډېره ګټه یې هم پاکستان ته رسېدله. اوس د غالیو اوبدل، پروسس، مینځل او نور کارونه ټول همدلته کېږي او بیا له افغانستانه د افغانستان په نوم صادرېږي او ګټه یې هم افغانستان ته رسېږي.))د جوزجان ولایت د صنعت او سوداګرۍ ریاست د معلوماتو له مخې، د دې ولایت په مرکز او ولسوالیو کې دا مهال د غالیو اوبدلو ۸۰ کارخونې فعالیت لري چې په کې ۱۲۴ زره ښځینه او ۶ زره نارینه کارګران پر کار بوخت دي.

د تورخم لارې د بندېدو ...

او پانګونې خونې د مدیره پلاوي غړی خانجان الکوزي وایي: ((که څه هم دا مهال د پاکستان د مېوې وخت دی او دوی ډېر تاوان کوي، خو زموږ خواته هم معادن ولاړ دي او دغه راز وچه مېوه او غالۍ مو بندې دي. باید ووایم، چې پاکستان موږ ته اړتیا لري او موږ پاکستان ته؛ دا یوه ډېره جدي ستونزه ده او لومړی ځل هم نه دی. پاکستان په کراتو بهانې جوړې کړې او پوله یې تړلې ده.))د الکوزي په خبره، په تېرو ۱۸ ورځو کې دواړو غاړو ته شاوخوا ۶ زره بار وړونکي موټر ایسار دي. الکوزي زیاتوي: پاکستان تل په حساسو وختونو کې د دواړو غاړو سوداګر زیانمن کړي دي . د سوداګرۍ او پانګونې خونې د مدیره پلاوي غړي په دې اړه وایي: ((په دې ورځو کې له شپږو زرو زیات په سوداګریزو توکو بار موټر ولاړ دي، خو اوس اکثریت موټر له تورخم څخه بېرته پېښور او دېخوا جلال اباد ته راغلل. د اوس لپاره د تجارتي توکو بارګیرۍ بنده ده. زما په اند، هره ورځ موږ او دوی ته تر یو میلیون ډالرو پورې په مستقیم او غیر مستقیم ډول تاوان رسېږي.))په ورته مهال، سوداګر وایي : دا لومړی ځل نه دی چې د تورخم لارې د تړلو له امله د دواړو غاړو سوداګرو ته درانه مالي زیانونه اوړي، بلکې سوداګر په دوامداره توګه د ورته ستونزو او زیانونو له امله په دې لاره د کاروبار ادامې ته زړه نا زړه دي. سوداګر محمد یونس څدراڼ وایي: ((د تورخم دروازه هرکله په ډېرو حساسو وختونو کې د افغان تجارانو پر وړاندې بندېږي او له امله یې زموږ سوداګر له ډېرو ستونزو سره مخامخ کېږي او اقتصادي زیانونه ور اوړي. زموږ سوداګرو او حکومت ته په کار ده ،چې نور د پاکستان د دروازو یا تجارت په ځای بدیلې لارې پیدا کړي.))د تورخم لاره د پاکستان له خوا هغه مهال وتړل شوه چې د دواړو هېوادونو د پوله ساتو ځواکونو ترمنځ شخړه رامنځته شوه او په کې د مالي زیانونو ترڅنګ، ځاني مرګ ژوبله هم واوښته.

ابو نصر فراهي ګمرک کې ...

او چارې به یې تر راتلونکو لسو میاشتو پورې د یوه افغاني شرکت له لوري بشپړې شي. د یادولو وړ ده، چې هر هنګر به په یوه وخت کې د پنځه زره متریک ټنه توکو د ځایېدو ظرفیت ولري، چې په جوړېدو سره به یې سوداګرو ته د سوداګریزو توکو د خوندي ساتلو په برخه کې ګڼې اسانتیاوې رامنځته شي.

د تېرې اداري ۶ تنه ...

د پشت رود ولسوالۍ د اول تولي قوماندان عبدالحق عادل، د بغلان ولایت د استیناف څارنوالۍ ښاري څارنوال عطاء الله پیکار، د فاریاب ولایت د امنیه قوماندانۍ د روغنیاتو آمر سید سکندر سادات، د کندز ولایت په خان آباد ولسوالۍ کې د ملي امنیت د مفرزه قطعې قوماندان شرف الدین ستانکزي شامل دي، چې ټول له ایران څخه بېرته خپل هېواد ته راستانه شوي دي. د یادونې وړ ده، چې له دې وړاندې هم د تېرې ادارې ګڼ شمېر کارکوونکي د یاد کمېسیون له لارې بېرته خپل هېواد ته راستانه شوي وو.

هرات کې د هنري آثارو ...

میراث ژوندی وساتي. نوموړي زیاته کړې؛ هرات د هېواد د هنرمندانو کور دی او د افغانستان اصیل هنرونه په دې ولایت کې لا هم پیاوړي او غوړېدلي دي. هرات کې د ملي نګارستان مدیر وایي: په دې نندارتون کې ۷۵ هنري اثار د ۴۰ تکړه استادانو له لوري په بېلابېلو برخو کې لکه انځورګري، خطاطي، تذهیب (زرین او ګل کاري شوي هنري اثار) او مختلفو لیک ډولونو کې جوړ شوي او ننداري ته وړاندې شوي دي.

په ورته وخت کې د نندارتون ګډونوالو، د هنرمندانو د دې ډول نندارتونونو هرکلي کړی او د ملي هنرونو د لا ډېر ملاتړ غوښتنه یې کړې. د دوی په وینا؛ د دا ډول نندارتونونو دوام کولی شي، د اصیلو هنرونو د لا ودې او پرمختګ لپاره زمینه برابره کړي.

اسلامي امارت پاکستان کې ...

دیني او تولنیزو مشترکاتو لرونکي دي او د دواړو لورېو مسئولین کولی شي له دغو ظرفیتونو څخه په اقتصادي، سیاسي او فرهنګي برخو کې د اړیکو د پیاوړتیا او پراختیا لپاره ګټه واخلي او هغه پیاوړي کړي.

د ریاست الوزراء اداري مرستیال په پاکستان کې مېشتو افغان کډوالو څخه د ملاتړ په برخه کې د اسلامي امارت پر ژمنتیا ټینګار کړی او زیاته کړې یې ده: په اسلام اباد او د پاکستان نورو ښارونو کې د افغانستان اسلامي امارت سفارت او قونسلګرۍ دې په پاکستان کې د مېشتو افغان کډوالو د ستونزو او موانعو د حل لپاره زیات کوښښ وکړي.

هند او افغانستان له پېریو ...

اوږدمهالې اړیکې لري او د دواړو هېوادونو ترمنځ ګډ مشترکات شتون لري. د یادونې وړ ده، چې نوموړي د ملګرو ملتونو په دې ناسته کې په دوبۍ کې د اسلامي امارت د بهرنیو چارو وزارت د سرپرست مولوي امیرخان متقي او د هند د بهرنیو چارو د وزیر ویکرام میسري پخوانۍ ناستې ته هم اشاره کړې ده.

افغانستان کې د تاپي ...

اوسمهال په افغانستان کې د دغې پروژې د پلي کېدو پر وړاندې هیڅ خنډ نشته او په دې پروژه کې بشپړ هېوادونه ژمن دي، چې دا پروژه په ټاکلي وخت کې بشپړه کړي. د اقتصادي چارو ځینې شنونکي د دې پروژې اهمیت ته په پام سره وایي، چې د تاپي پروژې په بشپړېدو سره به افغانستان، د ګازو په ترلاسه کولو سربېره، هر کال شاوخوا ۴۰۰ میلیونه ډالره د ترانزیټ حق هم ترلاسه کړي. د اقتصادي چارو شنونکی عبدالشکور هېله وال وایي: دا پروژه نه یوازې افغانستان ته مالي ګټې لري، بلکې په بشپړېدو سره به یې د ګازو بیه راټیټه شي او خلک به یې له ګټو برخمن شي. د یادونې وړ ده، چې تاپي یوه واحده پروژه نه ده، بلکې څو نورې پروژې لکه د ترکمنستان د ۵۰۰ کیلو ولټه برېښنا د لېږد پروژه چې د ترکمنستان برېښنا د افغانستان له لارې پاکستان ته لېږدوي او د نوري فایبرکېبل او ریل پټلۍ هم د ګازو د دې نللیکې په اوږدو کې غځول کېږي.

امضای تفاهمنامه همکاری ...

در مراسم امضای این تفاهمنامه، مولوی عطاءالله عمری وزیر زراعت، آبیاری و مالداری پیرامون ظرفیت‌های موجود در بخش زراعت و مالداری افغانستان صحبت کرده و افزود: «مردم افغانستان بیشتر مشغول زراعت و مالداری هستند، اما باوجود تلاش‌های زیاد، حاصل کمتری به دست می‌آورند، زیرا متخصصین نتوانستند نتیجه تحقیقات شان را به دهاقین انتقال دهند. اکنون نیز دهاقین کشور کارشان را به شکل سنتی پیش می‌برند و بهره‌وری کمتری دارند. بنابراین، وزارت زراعت نیاز جدی به متخصصین وزارت تحصیلات عالی دارد، زیرا آنان می‌توانند در تمام بخش‌ها ظرفیت را بلند ببرند. اگر در وزارت زراعت ظرفیت بلند برده شود و تغییر مثبتی ایجاد گردد، در تمام افغانستان تأثیر مثبت خواهد گذاشت، زیرا همه مردم کشور نیازمند محصولات زراعتی هستند.»

همچنین وزیر زراعت از فراهم‌بودن امکانات لابراتواری در وزارت زراعت جهت انجام کارهای عملی برای استادان و محصلین وزارت تحصیلات عالی سخن گفته و خواستار همکاری وزارت تحصیلات عالی در زمینه تحقیقات دوجانبه میان متخصصین وزارت زراعت و تحصیلات عالی، ارتقای ظرفیت کارمندان وزارت زراعت، ایجاد کمیته مشترک تحقیقاتی با حضور متخصصین دو وزارت در مرکز و ولایات و همکاری متخصصین و استادان وزارت تحصیلات عالی در بخش تهیه پلان‌های تخصصی در وزارت زراعت شد.

در همین حال، شیخ ندا محمد ندیم وزیر تحصیلات عالی پیرامون اهمیت زراعت و نقش وزارت زراعت در کشور سخن گفته و بر همکاری میان این دو وزارت تأکید کرد. وی افزود: «ما تعهد می‌کنیم که در حد توان به گونه کامل با وزارت زراعت همکاری کنیم. در این تفاهمنامه، وظایف هر وزارت مشخص شده است. ما می‌توانیم موضوعات علمی را که تدریس می‌کنیم، به‌گونه عملی با همکاری وزارت زراعت تطبیق نماییم. محصلین ما نیز به شکل عملی می‌آموزند، درحالی که ما لابراتوارهای شما را نداریم. بنابراین، این همکاری از جانب شما برای ما بسیار ارزشمند است.»

همچنین وزیر تحصیلات عالی پیشنهادات وزیر زراعت را تأیید کرده و از همکاری صادقانه با وزارت زراعت سخن گفته و به تمام رؤسای مرکزی و ولایتی آن وزارت توصیه کرد که همکاری همه‌جانبه با وزارت زراعت داشته باشند. در ادامه، مولوی صدراعظم عثمانی معین زراعت و مالداری وزارت زراعت، درباره لابراتوارها و امکانات این وزارت برای فراهم‌سازی زمینه کارهای عملی برای وزارت تحصیلات عالی سخنرانی کرد.

همچنین داکتر اسامه عزیز، رئیس پوهنتون کابل، در مورد اهمیت زراعت در رشد اقتصادی کشور صحبت کرده و امضای این تفاهمنامه را گامی مهم در راستای رشد زراعت و تحصیلات عملی در این بخش عنوان کرد. این تفاهمنامه در سه فصل و یازده ماده، به‌منظور استفاده حداکثری از ظرفیت‌های تخصصی و علمی طرفین، در راستای انجام فعالیت‌های علمی، تحقیقی، آموزشی، ارتقای ظرفیت و تقدیم نیروی بشری متخصص و متعهد به ارزش‌های دینی، ملی و اعتلای کشور به امضا رسیده است.

لوګر کې ۱۱میله وسلې ...

د کشف پرمهال په تېرو درېو میاشتو کې نیول شوي دي. ده همدارنګه وویل: د جنایي جرمونو او یادې وسلې په تړاو یو شمېر کسان هم نیول شوي دي، چې یاد کسان عدلي او قضایي ارګانونو ته ورپېژندل شوي دي. هېره دې نه وي چې له دې وړاندې هم د لوګر ولایت امنیه قوماندانۍ په محمداغې ولسوالۍ کې د جنایي جرمونو په تور د لسګونو کسانو د نیولو خبر ورکړی و.

د اسرائیلو له لورې ...

د تګ اجازه نه‌ورکوي. نوموړې وایي، چې دغه مرستې غزه کې له جګړې پاتې ژوندیو کسانو ته حیاتي دي او باید ور ورسول شي. هادي په یوه بیانیه کې ویلي، چې د مرستو د لېږد برخه کې خنډ به د اوربند پرمختګونه برعکس کړي. بله خوا قطر او اردن وایي چې پر غزې په روانې کلابندۍ سره اسرائیل غواړي ،چې د یادې سیمې پر اوسېدونکو لوږه تحمیل کړي.

هیواد کې زېربنایي پروژې ...

له بیا رغولو مخنیوي او د پلي کولو پرمهال یې د لګښتونو سپما ته هم ځانګړې پاملرنه شوې وي. همدا راز د راتلونکو پلانونو او د احتمالي ستونزو پر مخنیوي هم بحثونه شوي دي. د یو شمېر ادارو له لوري له میکانیزم سره سم د ځینو پروژو د پلي کولو ستاینه شوې او اړوندې ادارې لا پیاوړې همغږۍ ته هڅول شوې دي. په پای کې د مالي وزارت له لوري د ټولو اړوندو زېربنایي پروژو د ښو پلي کولو او بیارغونې په برخه کې اړتیا ته په کتو د اصولي همکاریو بشپړ ډاډ ورکړ شوی دی.

غور کې ۳۶ پروژې ...

د نوموړي په وینا یادې پروژې د کرنې او نورو بېلابېلو برخو کې پلي شوې، چې ورسره د سیمې ۱۰۰۰ تنو ته د کار زمینه هم برابره شوې وه. د یادونې وړ ده، چې په دغه ولایت کې د ۱۲میلیونو افغانیو په لګښت د یوې بنسټیزې پروژې چارې په چټکۍ سره روانې دي.

سږکال د سپین‌بولدک ...

اړ شوم هېواد ته راشم او دلته هیله ده مرسته راسره وشي.))

((پر موږ افغانانو یې چاپې وهلې، پیسې یې رانه په غیر قانوني توګه اخیستې او زندانې کولو یې، هلته ژوند زیات سخت و.)) د کندهار د کډوالو او بېرته راستنېدونکو چارو ریاست د مسئولینو په وینا، د راستنېدونکو افغانانو لپاره دغه ولایت کې د یو ښارګوټي د جوړولو چارې روانې دي او له هغوی سره د اسلامي امارت او مرستندویو بنسټونو له لوري د نقدي او بشري مرستو لړۍ هم روانه ده.

خلیلزاد په تورخم کې ...

د یوې نوې پوستې د جوړولو پر سر د شخړې له امله پیل شوه او د حوت تر ۱۴مې پورې یې دوام وکړ. مخکې له دې، خلیلزاد په تورخم کې د نښتو په ځواب کې دواړو خواوو ته د خبرو بلنه ورکړې وه او زیاته کړې یې وه، چې هیڅ هېواد باید د بل هېواد پر ضد ونه کارول شي.

Hewad Daily

چهار شنبه د رمضان المبارک ۱۲ مه ۱٤٤٦ق کال | د کب ۲۲ مه ۱۴۰۳ ل کال | د2025م کال د مارچ ۱۲ مه

دورځپانو رئیس : انجنیر عُزیر «بریالی»
موبایل : ۰۲۰۲۵۲٦۳٤۰
آمر او مسئول مدیر : عطاء الله مبارز
موبایل: ۰۷۷٤۳۱۸۹۰۲
مسئول سکرتر: شېرمحمدنظري
موبایل: ۰۷۸۸۵۰۳۳۷۱

پته: اتمه ناحیه، د المپیک څلورلارې، د حضوری چمن ختیځ، کابل - افغانستان
دارېکو شمېره: س۰ ۲۵۲۶۳٤۰ - ۰۲۰
E-mail :info@hewaddaily.com
E-mail : hewad1948@gmail.com
دهیوادورځپانې انټرنېټي پاڼې دلاندې وېب سایټ له لارې هم کتلی شئ
وېب سایت: www.hewaddaily.com
دشکایاتو اوتوزیع څانګه:
۰۲۰۲۳۱۲۵۰۹-۰۷۶۶۰۴۴۹۶۶-۰۷۳۶۰۶۰۷۳

اسلامي امارت پاکستان کې د مېشتو افغان کډوالو ملاتړ ته ژمن دی

د افغانستان د اسلامي امارت د ریاست الوزراء اداري مرستیال مولوي عبدالسلام حنفي د پاکستان لپاره د افغانستان له سفیر مولوي سردار احمد شکیب سره لیدنه کړې. په دې لیدنه کې مولوي سردار احمد شکیب د یاد سفارت د کړنو، فعالیتونو او پروګرامونو او همدارنګه په پاکستان کې د افغان کډوالو د وضعیت په اړه د ریاست الوزراء اداري مرستیال ته راپور ورکړی.

نوموړي ویلي: په اسلام اباد او د پاکستان په نورو ښارونو او قونسلګریو کې د افغانستان

ډیپلوماتیک پلاوي په هغه هېواد کې د افغان کډوالو د موانعو او ستونزو د حل لپاره زیات کوښښ کوي. په اسلام اباد کې د افغانستان سفیر زیاته کړې: د افغانستان اسلامي امارت د رهبرۍ د لارښوونې اړوند کوښښ کوي چې د دواړو هېوادونو اړیکې ښه والي ومومي. د ریاست الوزراء اداري مرستیال یاد سفیر ته د ښه راغلاست ترڅنګ ویلي: افغانستان او پاکستان د دوو مسلمانو، ورونو او ګاونډیو هېوادونو په توګه د زیاتو فرهنګي، تاریخي... ۳مخ

نوی ډېلی: هند او افغانستان له پېړیو اوږدمهالې ګډې اړیکې لري

په ملګرو ملتونو کې د هند دایمي استازي وړمه ورځ ویلي، چې هند پر بېلابېلو موضوعاتو بحثونه کړي دي.



په افغانستان کې حالت له نږدې څارې او له اسلامي امارت سره یې د دوه اړخیزو اړیکو اړوند پروتانیني هریش دغه راز ټینګار کړی، چې هند او افغانستان له پېړیو راپه دې خوا... ۳مخ

افغانستان کې د ټاپي پروژې ۸ کیلومتره نللیکه غځېدلې

افغانستان کې د ټاپي پروژې عملي چارې تر ډېره مخ ته تللې دي. د ګرندی شي. د ټاپي د ګازو نللیکې پروژه، چې د ترکمنستان ګاز د



کانونو او پټرولیم وزارت مسئولین وايي: د اقلیمي شرایطو په برابرېدو سره به د دغې پروژې چارې لا افغانستان له لارې پاکستان او هند ته لېږدوي، په افغانستان کې یې اته کیلومتره پرمختګ لرلی دی. د کانونو او پټرولیم وزارت رسنیو ته ویلي: اوسمهال د دې پروژې کار په هرات کې روان دی او د هوا په ښو کېدو سره به یې چارې چټکې شي. د کانونو او پټرولیم وزارت ویاند، همایون افغان په دې اړه ویلي: تر اوسه د ټاپي نللیکې پروژې د مسیر شاوخوا ۱۷.۴ کیلومتره سروې بشپړه شوې ده. همدا راز ۱۰.۲ کیلومتره نللیکه سیمې ته غځېدلې ۹.۲ کیلومتره ځمکه د غځولو لپاره هواره شوې او اته کیلومتره نل لیکه نصب شوې ده. د کانونو او پټرولیم وزارت ویاند وايي:.. ۳مخ

امضای تفاهمنامه همکاری میان وزارت‌های زراعت و تحصیلات عالی

تفاهمنامه همکاری میان وزارت زراعت، آبیاری و مالداری و وزارت تحصیلات عالی امارت اسلامی افغانستان پیرامون شریک سازی تجارب تحقیقاتی و فراهم سازی زمینه کارهای عملی برای محصلین به امضا رسید. این تفاهمنامه میان مولوی عطاءالله عمری وزیر زراعت، آبیاری و مالداری و شیخ ندا محمد ندیم وزیر تحصیلات عالی، با حضور مولوی صدراعظم عثمانی معین زراعت و مالداری، مولوی بازمحمد فیضان معین آبیاری و منابع طبیعی، ملا آغاجان آخند حاجی سالم معین مالی و اداری وزارت زراعت و شماری از رؤسا و متخصصین بخش‌های مختلف وزارت زراعت به امضا رسید.. ۳مخ

کندهار کې د نیالګیو کېنولو ملي کمپاین پیل شوی

د کندهار ولایت د چاپېریال ساتنې ریاست مسئولین وايي، چې په دې ولایت کې د نیالګیو کېنولو ملي کمپاین د زیتني او میوه لرونکو نیالګیو په ایښوولو سره پیل شوی دی. دا په داسې حال کې ده، چې د چاپېریال ساتنې ملي اداري په ټول هېواد کې د ۱۴۰۴ هجري لمریز کال د نیالګیو کېنولو ملي کمپاین پیل کړی. د یادې اداري له خوا د کندهار لپاره د ۳۰۰۰ نیالګیو سهم ټاکل شوی، چې له دې ډلې یې د ۴۵۰ ناجوګانو او د نارنج نیالګیو د کېنولو پروسه د کندهار د عمومي عیدګاه په انګړ کې پیل شوې ده.

لوګر کې ۱۱میله وسلې نیول شوې

د لوګر د امنیې قوماندانۍ چارواکي وايي، چې د دغه ولایت کشفي او امنیتي ځواکونو په محمداغې ولسوالۍ کې ۱۱میله سپکې وسلې نیولې دي. د دغه ولایت د امنیې قومنداني ویاند مولوي احمدالله انس رسنیو ته ویلي، نیول شویو وسلو کې ۷ توپانچې او څلور میله ښکاري ټوپکونه شامل دي. نوموړي زیاته کړه: یادې وسلې د محمداغې ولسوالۍ د امنیتي ځواکونو له لوري د جنايي جرمونو .. ۳مخ

د اسرائیلو له لوري د غزې کلابندي د ۲میلیونو فلسطینیانو ژوند ګواښي

د ملګرو ملتونو د بشري مرستو چارواکي وايي، چې غزه کې د اسرائیلو کلابندي د څه باندې دوو میلیونو فلسطینیانو ژوند له ګواښ سره مخ کړي دي. د فلسطین د اشغال شوې خاورې لپاره د ملګروملتونو د بشري مرستو همغږي کوونکی مهند هادي وايي، چې نړیوال بشري قانون روښانه دی او په وینا یې، اسرائیل باید پرته له ځنډه غزې ته بشري مرستې ور پرېږدي. هادي زیاته کړې: نږدې لس ورځې کېږي، چې اسرائیلو غزه کلابنده کړې او په بشري مرستو بار ولاړو لاریو ته ... ۳مخ

هیواد کې زېربنايي پروژې په بشپړې همغږۍ پلې کېږي

د مالیې وزارت د پالیسۍ د مرستیال انجنیر سلطان محمد زبیر په مشرۍ د ملي زېربنايي پروژو د جوړ شوي میکانیزم د غوره پلې کېدو په موخه د ۲۷ وزارتونو، خپلواکو ادارو او امارتي شرکتونو ترمنځ د همغږۍ غونډه شوې. په دې غونډه کې د افغانستان د اسلامي امارت د ریاست الوزراء له لوري د زېربنايي پروژو د همغږۍ او شریکولو پر تأیید شوي میکانیزم هر اړخیز بحثونه شوي او د یاد میکانیزم د غوره پلې کېدو لارې چارې لټول شوې دي. په یاده غونډه کې له پلان سره سم په منظم او دقیق ډول د زېربنايي پروژو پلې کول اړین بلل شوي، ترڅو د زېربناوو ... ۳مخ

غور کې ۳۶ پروژې پلې شوې

د غور ولایت د اقتصاد ریاست مسئولینو په دغه ولایت کې په روان ۱۴۰۳ لمریز کال کې د ۱۶۷میلیونو افغانیو په لګښت د اطلاعاتي آژانس ته ویلي چې د یاد ولایت په بېلابېلو سیمو کې د ۱۶۷ میلیونو افغانیو په لګښت ۳۶ بېلابېلې پروژې پلې شوې، چې له

۳۶ بېلابېلو پروژو د پلې کېدو خبر ورکړی دی.

د یاد ولایت د اقتصاد رئیس مولوي محمد نبي خالد منصور باختر جملې یې ۱۵ پروژې د یاد ریاست له لوري او پاتې نورې د همکارو موسسو په مالي ملاتړ پلې شوې دي ... ۳مخ

سږکال د سپین‌بولدک له لارې نږدې ۵۵۰۰۰ افغانان هیواد ته راستانه شوي

د کندهار ځايي مسئولین وايي: د روان ۱۴۰۳ لمریز کال له وري میاشتې د کب تر پنځمې نېټې د سپین‌بولدک له لارې نږدې ۵۴زره او ۹۵۸ افغانان چې ۱۰زره او ۳۵۰ کورنۍ کېږي، هېواد ته راستانه شوي. د کندهار د کډوالو او بېرته راستنېدونکو چارو ریاست د کډوالو د ثبت عمومي مسئول مولوي حبیب‌الله وویل: د دې ترڅنګ، پاکستان روان کال د سپین‌بولدک له لارې هغه هېواد څخه ازاد شوي ۱۴۹۷ افغان زندانیان هم د اسلامي امارت اړوندو ادارو ته سپارلي دي.ورته وخت کې یو شمېر دغه راستنې شوې کورنۍ شکایت کوي ،چې پاکستان کې د کډوالۍ پرمهال جدي ننګونو سره مخ وې او هېواد ته په راتلو یې هم ستونزې نه دي حل شوي. دغه کورنۍ دوی سره کېدونکې مرستې کافي نه‌بولي او له مسئولینو د سرپناه، کاري زمینې برابرولو او لا ډېرو نورو مرستو غوښتنه کوي. شېرمحمد او ذکرالله چې تازه هېواد ته راستانه



شوي وايي: ((پاکستان کې یې زموږ اولادونه ښوونځیو کې نه پرېښودل، موږ یوازې کوټې کې ژوند کولای شوای. د کاروبار لپاره نورو ښارونو ته نشوو تللی، افغانان یې نیول ... ۳مخ

خلیلزاد په تورخم کې د اسلامي امارت له خوا د امنیتي پوستو له جوړولو ملاتړ وکړ

د افغانستان لپاره د امریکا پخواني سفیر، زلمي خلیلزاد په تورخم کې د اسلامي امارت د لیکلي: د اوسنیو نښتو یو دلیل دا دی، چې پاکستان غواړي د افغانستان له خوا د امنیتي

ځواکونو له خوا د امنیتي پوستو له جوړېدو ملاتړ کړی او په پوښتونکي ډول یې لیکلي: ولې پاکستان په خپله خاوره کې امنیتي پوستې ولري، خو افغانان نه؟ دوه ورمه ورځ په ایکس پاڼه پوستو د جوړولو مخه ونیسي. د اسلامي امارت د ځواکونو او پاکستاني سرحدي ساتونکو ترمنځ نښته د تېرې یکشنبه په ورځ (د حوت ۱۲مه) په افغانستان کې ... ۳مخ